# رسول الله صلی الله علیه وسلم به خوښول چې په بوټانو (پېزار) پښو کولو، سر ګمنځولو، پاکوالي او خپلو ټولو چارو کې په ښي (غړي یا اړخ) پېل وکړي

له ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی وايې چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم به خوښول چې په بوټانو (پېزار) پښو کولو، سر ګمنځولو، پاکوالي او خپلو ټولو چارو کې په ښي (غړي یا اړخ) پېل وکړي.
[صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روایت کړی دی)]

رسول الله صلی الله علیه وسلم به خوش او غوره ګڼل چې په عزتمندو چارو کې په ښي(غړي یا اړخ) پېل وکړي لکه: په پېزار پښو کولو کې په ښ پښه پېل وکړي، د سر او ږيرې په ګمځولو، صافولو او غوړولو کې له ښي اړخ څخه پېل وکړي او په اودس کې د لاسونو او پښو په وینځلو کې ښی غړی په چپ غړي مخکې کړي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3018

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee